ازاد افغانستان خبري بولتين    تاريخ ۸ / ۱ / ۲۰۰۹

بسم الله الرحمن الرحيم

# په راتلونکو ټولټاکنو کی د مطرح نوم اند ښاغلی استاد علی احمد جلالی د ونډې په اړه د علمی کنفرانس پرېکړه لیک

هلنډ د نايکرک ښار    د ۲۰۰۹ م کال د جنورۍ ۰۳

---

په هغه علمي او تحليلي كنفرانس كي ، چي دهالينډ په هېواد كي جوړ شوی و او په اروپا كي ميشتو افغانانو ، دسياسي او ټولنيزو چارو كارپوهانو او يو شمېر نورو مخورو په كي برخه اخيستي وه ، دافغانستان په اوسنيو حالاتو ، راتلونكو ټوټاكنو او نورو بيلا بيلو ستونځو په اړخونو باندې هراړخيزې خبرې او بحثونه وشول .
او په پای كي ګډون والو لاندې پرېكړه وكړه :

۱ - موږ د نن ورځي دكنفرانس ګډون كوونكي د ښاغلی پروفيسور علي احمد جلالي ځخه غواړو ، چي د راتلونكو ټولټاكنو لپاره ځان نوم اند كړي ، د قومي او حزبي دريځ ځخه بې پرې د ټولو افغان ميشتو وروڼو قومونو لازم ګډون دې تامين كړای شي او په راتلونكو ټولټاكنو كي دې د داسي ګډون لپاره خپله كرنلاره ترتيب او تنظيم كړي ، چي د افغانانو ګڼو پرګنو لپاره د پوهاوي وړ وي او د داسي دريځ ځخه موږ ګډون كوونكي له اوسه كلك ملاتړ كوو .

۲ - موږ دعلمي او تحليلي كنفرانس ګډون كوونكي په خپل هېواد افغانستان كي ازاد ، عادلانه ، بې پرې ، رانه او دموكراتيک انتخابات غواړو د انتخاباتو له كميسيون نه غواړو چي د بېطرفه ټولټاكنو لپاره ټول شرايط برابر كړي .

۳ - موږ د داسي سياسي جوړښت ننګه او ملا تړ كوو ، چي دقانون پربنسټ ملي يووالی او ټولنيزعدالت پرځای كړي او زموږ هېواد د اوسنيو ستونځو او نانډريو ځخه وژغوري .

٤ - موږ دكنفرانس ګډون كوونكي هر ډول بنسټ پالنه غندو او د هېواد په ټولو چارو كي د لازم منطقي انډول پلويان يوو ، افغاني ټولنه او افغانان نه مذهبي بنسټ پالنه او نه صادر شوي غربي دموكراسي مني بلكي د افغاني ټولني د ټولنيزي ، سياسي او فرهنګي جوړښت سره سم بهير ته اړتيا لري .

٥ - موږ بهرميشتي افغانان دمسؤلو چارواكو ځخه غواړو ، چي د بهرميشتو افغانانو ګډون دې د افغانستان په ټولټاكنو كي تامين او تضمين كړي او نوم ليكنه دې سمدلاسه پيل او د ګډون كارتونه دې بهرميشتو افغانان تر لاسه كړي .

٦ - د ګډونوالو په خوښه فيصله وشوه تر ځو چی ددغه كنفرانس له ادرس ځخه بعضی كورنيو او بهرنيو مسوولو مراجعو ته ليكونه واستول شي چی بهر ميشتو افغانانوته هم د راۀ وركولو چانس برابر شي ، او دغه موضوع لازمه ده چي ټول بهر ميشته افغانان په جدي توګه وځارې او دخپلو ممكينه وړتياوه ځخه په په ګټه اخيستو سره خپل مشروع غږ پورته كړې، تر ځو چي مخكی لدې د نوم ليكلو لړې ختمه شي، بهر ميشته افغانانوته د نوم ليكلو چانس او اسنتياوې برابرې شي اود خپل دغه مشروع حق ځخه ګټه واخلي٠


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de